# ملاکنډ کښې د جنګ له وجې تباه شوي فصلونه او باغونه

## د متاثرينو بحالي د حکومت د پاره يو لوئې ازمېښت

ترجمه: برېښنا شهزاد

پښتونخوا صوبه کښې د ملاکنډ په پنځو ضلعو کښې تقريباً د تېرو دوه مياشتو نه په مسلسله کرفيو کښې د لږې نرمۍ او د فوځ د طرف نه د څو علاقو د "کلئير" کېدو نه پس د جنګ د وجې نه متاثره شوي خلقو څۀ لږ شمېر کښې خپلو خپلو علاقو ته واپس کېدل شروع شوي دي. خو د دې خلقو کښې يو شمېر داسې دے چې د هغوي سره د سر د پټولو ځادر هم نشته.

د مۍ ۲۰۰۹ مياشت کښې سوات او خواؤشا سيمو کښې پاکستاني فوځ د شرخوښو خلاف د جنګ د لان کولو نه پس کرفيو ولګوله. د بد قسمتۍ نه دا کرفيو داسې وخت کښې ولګېده چې د سوات د غرونو په لمن کښې د زميندارانو په زرګونو ايکړه رقبه کرلې شوي غنم، جوار او د تماکو فصلونه بالکل تيار شوي وو او صرف رېبل ئې پاتې وو. په زرګونو ايکړه رقبه پراتۀ باغونه چې په هغې کښې د منو، شلتالانو، آلوبخارې، ناشپاتۍ، خوبانۍ او نور د اربونو روپو پخې شوې مېوې شاملې دي.

د جنګ نه پس د زميندارانو د اربونو روپو ماليت، فصلونه او مېوې په باغونو کښې ضائع شول، ځکه چې په پټو، باغونو او دامانو کښې د مېوو د خصماني د پاره هېڅ څوک نۀ وو. دا نقصان صرف د ملاکنډ د اوسېدونکو نۀ دے، بلکې د دې اثر زمونږ ټول ملک محسوس کړو، ځکه چې د دې سيمو پېداوار به ټول ملک ته رسېدو. اوس دا ټول زميندارانو ورو ورو واپس ځي، ځکه چې د دوي د خرڅ خوراک هېڅ ذريعه نشته. د جنګ نه د متاثره شوو خلقو بحالي يوه لويه مسئله جوړه شوې ده.

د زميندارانو د حقوقو د پاره جوړ يو تنظيم "کسان بورډ پاکستان" د اندازې مطابق د شرخوښو خلاف د جنګ د وجې نه ملاکنډ ډويژن کښې فصلونه، سبزيانې، مېوې او د ځارؤ سره فصلونه او باغونه ټول تقريباً ۲۶ اربه ۷۰ کروړه روپۍ نقصان وشو او ۵۰ فيصده ځارؤ ته د نقصان رسېدو د وجې نه د هغې ځائے د خلقو ۱۳ اربه روپۍ ضائع شوې. د غېر سرکاري تنظيمونو، پنجاب لوک سبحاک او ساؤت ايشيا پارټنر شپ پاکستان کښې د دې مياشتې جاري شوي يو رپورټ مطابق دا وخت په شورش ځپلو سيمو کښې تقريباً ۱٤ فيصده مېښو ته نقصان رسېدلے دے. د دې خبر له مخې د جنګ نه متاثره شوو خلقو له په خپلو پښو ودرېدو د پاره د پنځو کالو وخت پکار دے. ښکاره خبره ده چې په ملاکنډ ډويژن کښې د سړکونو او پلونو ورانېدو نه

او د لارو د غیر محفوظ کېدو د وجې نه د ذرائع آمد و رفت سلسله تقریباً په ختمېدو ده او په سوونو منه د مېوو او سبزیانو نه ډک ټرکونه منډیو ته نهٔ رسي چې د هغې نقصان د ټول ملک عوامو ته د مېوو د قیمت د زیاتېدو په صورت کښې رسي او راروان وخت هم داسې دے. د سوات زمیندارانو د کرفیو د وجې نه نهٔ خپل تیار شوے فصل خرڅ کړے شو او نهٔ ئې د راروان وخت دپاره د نوي فصل د کر تیارے وکړے شو.

د ضلع بونیر د سیمې پیربابا اوسېدونکے ایاز خان وائي چې د غنمو د فصل کټه زمونږ د ژوند لویه ذریعه ده چې د هغې د وجې نه مونږ ته د ټول کال خوراک ترلاسه کېږي خو دا ځل له زمونږ غنم خرڅ نهٔ کړے شو او په پټو او دامانو کښې ولاړ خراب شو. د ایاز خان د وېنا مطابق د غنمو په اووهٔ نیم ایکړه رقبه کرلو ډېرې پېسې خرچ کړې وې چې د هغې قرض اوس هم راپورې دے، کهٔ حکومت مونږ له یو لک روپۍ امداد هم راکړي نو نهٔ خو زمونږ کورونه پرې جوړېږي او نهٔ زمونږ قرضونه پرې خلاصېږي.

د "کسان بورډ" د سوات د ضلع جنرل سېکرټري احسان الله خان وائي چې په سوات او ملاکنډ کښې د ټولو نه زیاتې منې پېدا کېږي. دلته په ۴۲۰۰ هیکټېر رقبه د منو باغونه پراتهٔ دي چې د هغې سالانه پېداوار ۵۰۳۵۵ ټنه دے. جاپانۍ مېوې (املوک) ۱۹۶۵ هیکټره رقبه نیولې ده چې د دې سالانه پېداوار ۱۹۸۸۹ ټنه دے. دغه شان په ۶۱۰ هیکټره رقبه د الوچو باغونه دي او د دوي سالانه پېداوار ۶۱۰۱۰ ټنه دے او د ناشپاتو د باغونو ۴۲۱ هیکټره رقبه ده چې د دې سالانه پېداوار ۷۵۱۵ ټنه دے.

احسان الله خان ووئیل چې د جنګ د سیمو ۸۵ فیصده زمینداران دي چې د کرکیلې سره ئې تعلق دے ، هغوي زیات غنم کري.

د پاکستان " هارټیکلچر ډویلپمنټ اینډ ایکسپورټ بورډ لاهور" مطابق په روان کال کښې د ملاکنډ او سوات د سیمو د مېوو پېداوار کښې ۳۰ نه تر ۵۰ فیصده پورې د کمې امکان دے. سوات کښې په دې وخت د شلتالانو فصل بالکل پوخ شوے دے خو د جنګ په وجه د تېر شوي کال په مقابله کښې دا ځل د شلتانو په پېداوار کښې ډېر زیات تاوان وشو.

په جنګ ځپلو سیمو کښې د خلقو د کار روزګار لویه ذریعه فصلونه او کرکیله وي. د ذرخېزۍ او مناسب موسم له کبله سوات د کرکیلې دپاره یوه ښکلې علاقه ده. غیر سرکاري تنظیمونه پنجاب لوک سجاک او ساؤت ایشیا پارټنر شپ د پاکستان له اړخه جاري شوي رپورټ مطابق په سوات کښې د سبزیانو پېداوار د ملک د ټول پېداوار ۱۳ فیصده جوړېږي.

ملاکنډ کښې شورش زده پنځهٔ ضلعې پښتونخوا صوبې ته د سبزیانو پېداوار ۳۷ فیصده ورکوي. صرف سوات د سبزیانو د ټول صوبائي پېداوار څلورمه حصه پېدا کوي. جنګ ځپلې سیمې د پښتونخوا صوبه د پیازو د مجموعي پېداوار دریمه حصه پېدا کوي. د دې علاقو نه پښتونخوا صوبې ته د جوارو د مجموعي پېداوار یوه حصه ملاوېږي او په سوونو خاندانونه د مهو او د ماش د دالونو کر کوي. د دیر ضلعې د مهو د دال پېداوار د پښتونخوا صوبې د ټول پېداوار ۲۷ فیصده دے. په رپورټ کښې وئیلي شوي دي چې د بونیر ضلع د تماکو د پېداوار په حوالې سره په ټول

ملک کښې مشهوره ده.

د "کسان بورډ" جنرل سېکرټري احسان الله خان په خپلو خبرو کښې ووئيل چې د سوات د ضلعې ۸۵ فيصده زميندارانو او د کرکيلې خلقو د کډې کولو په وخت تيار فصلونه پرېښي وو. په دې کښې د ټولو نه اهم د غنمو فصل ؤ، چې بالکل تيار ؤ. هغه ٦۰ فيصده تباه شو او ونۀ رېبل شو. په ضلع دير کښې د تماکو فصل تيار ؤ، هغۀ ووئيل چې د سوات په ضلع کښې د مېوو تيار باغونه، سبزيانې چې هغه به څۀ وخت د کراچۍ، لاهور او اسلام اباد د لويو لويو مارکېټونو ښکلا وه، دا ټل خراب شو. د احسان الله خان د وېنا مطابق په سوات کښې زميندارانو في ايکړ زمکه په ٤۰ زره روپۍ په ټېکه واخسته. ۳۲ نه واخله د ۳۰ زرو روپو پورې ئې خرچه وکړه، پياز الوګان ئې وکرل چې وروستو د کډوالۍ په سبب د زمکې او څۀ د کرفيو د وجې نه په لاره کښې خراب شول.

د کسان بورډ د پښتونخوا صدر مراد خان ووې چې د بونېر په ضلع کښې د ورجينا تماکو په يو ايکړ د ۲۵ نه واخله ۳۰ زرو پورې خرچ راغلے وۀ چې هغه هر څۀ ختم شو د کومو نه چې يو زميندار ته في ايکړ اوسط يو لک روپۍ بچت کېدو.

د لوډشيډنګ د وجې نه د اوبو نظام هم ګډوډ شو او د تمباکو سره نور ډېر واړۀ فصلونه، سبزيانې او باغونه وچ پاتې شو. د دير په ضلع او سوات کښې به په راروان کال کښې هم د وريژو او غنمو فصل نۀ شي کېدے، کوم چې د دې ځائے د خلقو لوئے خوراک دے. د مراد خان د وېنا مطابق لاهور، پېښور، پنډۍ او کراچۍ د باغونو د بېپاريانو تقريباً د يو نيم نه تر درې اربو روپو نقصان وشو. د دې نه علاوه تقريباً د ۱۷ اربو روپو د مېوو نقصان وشو.

د سوات او دير وريژې او جوار چې په ذائقه او ښۀ والي کښې د نورو علاقو نه غوره دي او ډېر مشهور دي، د دوي د کر وخت هم اوس نزدې دے خو د حالاتو له کبله به ونۀ کړے شي، دغه شان چې کډه کوونکي خلق واپس خپلو خپلو کورونو ته لاړ شي نو د هغوي سره د راروان يو کال پورې د خوراک څۀ ذريعه نشته.

د سرحد چېمبر آف ايګري کلچر پشاور صدر احسان الله خان ووې چې په سوات کښې د فصلونو او باغونو ډېره لويه تباهي شوې ده. د وفاقي حکومت له اړخ نه د متاثرينو دپاره ۲۵ زره روپۍ امداد د يو خاندان دپاره ډېر کم دے. د کسان بورډ پاکستان مرکزي صدر ظفر خان سره په خبرو کښې دوي غوښتنه وکړه چې حکومت ته به د ملاکنډ د سالانه تماکو نه ٤۰ اربه روپۍ ډيوټي ورکولې شوه نو حکومت ته پکار دي چې د تماکو د زميندارانو د نقصان تلافي وکړي او د تماکو کمپنۍ دې هم خپلو زميندارانو سره دومره امداد وکړي چې بيا د تماکو د کر کولو قابل شي.

د ظفر خان د خبرې له مخې د پنځو کالو پورې دې د اوبو سره سره د هر قسمه فصلونو ټېکسونه معاف شي. متاثر شوي زميندارانو له دې بجلي، تېل، زرعي آلات او په کيميائي ځرو سبسډي ورکړے شي او بغېر د سود نه دې د درېو کالو قرضه ورکړې شي چې هغه په يو ځل يا په قسطونو د فصل د پېداوار نه پس ورکړي.

(د هفت روزه "هم شهري" لاهور په مننه)